# عام واکسینونو سره خپل د ماشوم ودې ته مرسته وکړئ.

ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم په وړاندیز شوي وخت کې ټول واکسینونه ترلاسه کوي؛ دا ستاسو د ماشوم روغتیا لپاره یو خورا مهمه طریقه ده.

## واکسینونه د عمر په اوږدو کې

لاندې مهال ویش چې د ماشومانو د امریکایی اکاډمۍ او CDC (د ناروغیو کنټرول او مخنیوي مرکز ) لخوا وړاندیز شوی؛ تعقیب کړئ.

### نوی زیږیدلی ماشومان

د بی هیپاټیت
واکسین #۱

### د یو تر دوو میاشتو

د بی هیپاټیت واکسین #۲

### د دوو میاشتو

واکسین (ډیپتیریا، تیتانوس او پرتوسس) #۱، د روټا ویروس واکسین #۲، د پولیو یا فلج واکسین#۱، د هیموفیلیو انفلونزا واکسین ۱، د سینه بغل واکسین #۱

### د۴ میاشتو

واکسین (ډیپتیریا، تیتانوس او پرتوسس) #۲، د روټا ویروس واکسین #۲، د پولیو یا فلج واکسین۲، د هیموفیلیو انفلونزا واکسین ۲، د سینه بغل واکسین #۲

### د ۶ میاشتو

واکسین (ډیپتیریا، تیتانوس او پرتوسس) #۳، د روټا ویروس واکسین #۳، د پولیو یا فلج واکسین#۳، د هیموفیلیو انفلونزا واکسین #۳، د سینه بغل واکسین #۳

### د ۶ میاشتو +

کوویډ ۱۹ واکسین

د واکسین د دوزونو وړاندیز شوی شمیر ستاسو د ماشوم عمر او د کووید 19 واکسین کارول شوي ډول پورې اړه لري.

### د ۶-۱۸ میاشتو

،د پولیو واکسین #۱
د بی هیپاټیت واکسین #۳
( او انفلونزا (کال په کال

### د ۱۲-۱۵ میاشتو

دري ګونی واکسین (د شری، ممپس او روبیلا) #۱، د اچ آی بی ډوله انفلونزا واکسین #۴، نور ټوخی واکسین #۴، د چیچک دانو واکسین #۱

### د ۱۲-۲۳ میاشتو

واکسین هیپاټیت ( آ ). #۱ د
واکسین هیپاټیت ( آ ). #۲

### د ۱۵-۱۸ میاشتو

واکسین (ډیپتیریا، تیتانوس او پرتوسس) #۴

### د ۴-۶ کلنو

واکسین (ډیپتیریا، تیتانوس او پرتوسس) #۵، د پولیو واکسین #۴ دري ګونی #۲، د چیچک دانو واکسین#۲ , او)

د نورو تازه معلوماتو لپاره



د هر یو واکسین په اړه ډیر نور معلومات ترلاسه کړئ!

IMMUNIZE KANSAS COALITION

# هريو واکسين څه کوي

**د هپاتيت بی او هيپاتيت آ واکسينونه:** دا ستاسو ماشوم د هيپاتيت بی ويروس او هيپاتيت آ ويروس چې د ځګر زيان لامل کيږي، څخه ساتي.
**دری دوزه واکسين ( هيپاتيت بی ) :** د زيږون په وخت کې، د يو تر دوو مياشتو ماشومانو لپاره (د هيپاتيت بی #۱، واکسين ورکولو څخه د يو تر دوو مياشتو وروسته) او د ۶-۱۸ مياشتو ماشومانو لپاره (۴ مياشتې وروسته د هيپاتيت بی #۲ واکسين ورکولو څخه )
**(هيپاتيت آ ) دوه دوزه واکسين:** د ۱۲-۲۳ مياشتو عمر لرونکو ماشومانو لپاره (دوه دوزونه، د ۶ مياشتو په توپير)

**د روتاويروس واکسين :** ستاسو ماشوم د شديد اسهال او د په بدن کی د اوبو کموالی څخه ساتي
**دوه دوزونه :** په ۲ مياشتو يا ۴ مياشتو کې يا
**درې دوزونه:** په ۲ مياشتو، ۴ مياشتو، او ۶ مياشتو کې

**د هيب انفلونزا واکسين :** دا ستاسو ماشوم د هيموفيلس انفلوينزا بی ډول کوم چې د عفونت او دماغ زيان سبب کيږي، څخه ساتي.
**څلور دوزونه:** په ۲ مياشتو، ۴ مياشتو، ۶ مياشتو او ۱۲-۱۵ مياشتو کې

**د (ډيپتيريا، تيتانوس او پرتوسس) واکسين:** د ډيپتيريا (د زړه پړسوب، د زړه ناکامی)، توري ټوخی (ټوکی ټوخی) او تيتانوس (د عضلاتو دردناک درد لامل کيږي چې د ژامې د بنديدو لامل کيږي) په وړاندې ساتنه کوي.
**پنځه دوزونه :** په ۲ مياشتو، ۴ مياشتو، ۶ مياشتو، ۱۸-۱۵ مياشتو او ۴-۶ کلنی کې

**د پوليو واکسين :** دا ستاسو ماشوم د پوليو څخه کوم چې کولی شي لاسونه او پښې فلج کړي، ساتي.
**څلور دوزونه:** په ۲ مياشتو، ۴ مياشتو، ۶ مياشتو او ۱۲-۱۵ مياشتو کې

**د (شری، ممپس او روبيلا) واکسين :** د شری، ممپس او روبيلا په وړاندې ساتنه کوي (روبيلا "جرمن روبيلا" ده، د روبيلا يو ډير جدي بڼه چې کولی شي په ماشومانو کې د زيږون نيمګړتياوې رامنځته کړي)
**دوه دوزونه :** په ۱۲-۱۵ مياشتو او ۴-۶ کلنی کې

**د چيچک دانو (واورسيلا) واکسين :** دا ستاسو ماشوم د چيچک دانو په اخته کيدلو څخه ساتي.
**دوه دوزونه:** په ۱۲-۱۸ او ۴-۶ کلنی کې

**د سينه بغل واکسين :** د نيوموکوکس څخه ساتنه کوی (کوم چې کولی شي د سينه بغل، د وينې انتاناتو او منتژيت لامل شي).
**څلور دوزونه:** په ۲ مياشتو، ۴ مياشتو، ۶ مياشتو او ۱۲-۱۵ مياشتو کې

**د انفلوينزا واکسين (زکام):** د انفلوينزا ويروس په وړاندې ساتنه کوي
**دوه دوزونه :** د ۶-۱۸ مياشتو ماشومانو لپاره (دوهم دوز د لومړي دوز څخه ۲۸ ورځې وروسته) ، بيا هر کال تر ځوانی پوری.

**د کوويد ۱۹ واکسين :** د کوويډ - ۱۹ واکسين زموږ د بدن سره د هغه ويروس پروړاندې معافيت رامينځته کولو کې مرسته کوي کوم چې د کوويډ - ۱۹ لامل کيږي، پرته لدې چې موږ ناروغ شو.
د کوويد ۱۹ واکسين هرچا لپاره چې د ۶ مياشتو څخه پورته عمر لری، وړانديز کيږي. د واکسين د دوزونو وړانديز شوی شمير ستاسو د ماشوم عمر او د کوويد ۱۹ واکسين کارول شوي ډول پورې اړه لري.

وړانديزونه کيدای شي د وخت په تيريدو سره بدلون ومومي او کيدای شي د هر ماشوم لپاره توپير ولري. د روغتيا پاملرنې چمتو کونکي سره د هغه واکسينونو په اړه خبرې وکړئ چې ستاسو ماشوم ورته اړتيا لري.

IMMUNIZE KANSAS COALITION

*Language: Pashto*
*Version: 5/19/25*